مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدمعصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۴/۲۹

# د یوه پښتو ژبي ګرامر لیکونکي

## فضل محمد"وکیل"

## په یاد



ښاغلی فضل محمد "وکیل"

څو ورځي دمخه مي دخپل پردېس کتابتون زړې پاڼي سره اوډلې او په ترڅ کي ئې پریوه کوچنوټي کتاب **(د پښتو ژبي لنډ ګرامر)** پېښ سوم. د کتاب لیکوال فضل محمد" وکیل" دئ اوکتاب په ۱۳۳۰هـ ش کال د طلوع افغان په مطبعه کي په کوچنۍ جیبي قطع چاپ سوی دئ. د کتاب ټول مخونه ۶۴ دي او موضوع ئې د پښتو ژبي ګرامردئ چي په منظوم او منثورشکل بیان سوی دئ.
فضل محمدخان مي پېژندی.دکندهارښار دخرقې شریفي شمال ته په پرته کوڅه کي اوسېدی.زه چي دکندهارله میرویس لېسې څخه فارغېدلم (۱۳۴۶ش)، دی په دغه کال وفات سو.
فضل محمدخان له نامه سره " وکیل" دتخلص په توګه کیښ. دده پلار محمدعلم خان اونیکه ئې سورګل خان نومېدی. نورنیکه ګان ئې د غزني ولایت په اندړوکي اوسېدل اوپه خټه هم اندړ ول. فضل محمد په ۱۲۸۸هـ ش کال په کندهارکي زېږېدلی اوپه ۱۳۴۶ش کال وفات سوی دئ.په ځواني کي برتانوي هندوستان ته تللی وو اوهورې ئې تعلیم هم کړی وو. هیواد ته تربیرته ستنېدو وروسته ئې دیوناني طبابت کار کاوه او تر هغه وروسته ئې دکندهارد"بلدیې ریاست" دترافیک په څانګه کي د مامورپه توګه رسمي دنده درلوده. له رسمي ماموریت سره ئې په څنګ کي دطلوع افغان له اخبارسره هم قلمي رابطه درلوده. شعر ئې وایه او نقاده طبع ئې درلوده.
لکه څوکرښي وړاندي چي مو ولوستل،دپښتوژبي دغه ګرامر په نظم اونثر دواړو لیکل سوی دئ. ترتمهید وروسته دپښتوحرفونه، دهمزه اوالف فرق، د(ها) اقسام، د(واو) اقسام، تلفظي اجزاء، ...،او نور قواعد راوړي.
دکتاب په ماخذوکي ئې دمحمداعظم ایازي "پښتوقواعد"، د پوهاند رښتین " ګرامرپښتو" او د"پښتوکلي" متفرق جلدونه یادکړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولـئ

په تمهيدکي وايي " زما د پښتو مورنۍ ژبې سره ذوق او علاقمندي او په نن ورځ کي زموږ د متبوع حکومت توجه چه د پښتنوژوند ته ئې په هره وسيله لري، زه دې ته مجبور کړم چه دا وړوکې رساله د ذوقمندانو او هغو کسانو د پاره چه د خپلې پښتو مورنۍ خوږې ژبې زده کول غواړي وليکم ..."
دکتاب پيل په دې بيت سره پيل سوی دئ :

ممتحنين محترمين که اخلي زما امــتحان
په مورنۍ ژبه کوم دصرف ؤ نحوي بيان

ددې کتابګوټي ګرامري قاعدې دهماغه وخت دنورو پخوانيوګرامريانو په شان دعربي ژبې دصرف و نحوي پربنسټ بيان سوي دي.ليکوال هره عنوان اول په يوه مربع وشمه نظم کي بيانوي او بيائې په نثر سره تشريح کوي. دمثال په توګه :

اسم اته قسمه لــري عام لکه سره زر، بازار
اسم خاص ښار لکه کابل، افغانستان، قندهار

اسم ذات ووينه په سترګو تې قياس کړه چنار
اسم معنى لکه ژړا، خندا او نـــورپه داشان

په متن کي ئې ځای ځای د عبدالقادر خان ختک بيتونه د مثال له پاره هم راوړي دي.
زه غواړم ددې کتابګوټي ټول نظمونه په دې نيامت پرله پسې را نقل کړم او تر نثري تشريح ئې ګام واړوم چي له هغو څخه يو لنډوکی منظوم ګرامر جوړسي. که يووخت چا د پښتوژبې د ګرامر تاريخ کيښ، داحاضره ليکنه به ئې دڅېړني دتاريخي ځنځير يوه کړی وي. په دې نظموکي چاپي غلطيوځای ځای دنظم رواني ته تاوان پېښ کړی دئ چي دغه ځايونه ئې ماتنقيح کړي دي.دغه راز په چاپي متن کي دياګانو سمه بڼه نه ده پالل سوې او زياتره ئې بې ټکو (ی) کار کړې ده. په دغه برخه کي ئې هم ما دسمون په نيامت ګوتي وهلي دي. البته دا لاسوهنه دونده ( دومره) نه ده،چي د متن دمسخه کېدو سبب سي.

[پوره ]دېرش حرفه دپښتو دي ځني جوړشي دفتر
شپاړس حرفـــــــونه مؤنث دي ځورلس دي مذکر

په (ده ــ ؤــ دی) سره ئې فرق دئ رب دي درکي هنر
دي وويل، ده ومنل، پلاربه کــــــړي غوزارپهلوان
+++++++++++++++
غيرله پيښ او زوَر ؤ زېره زوَرکی لـــــــري نام
داحرکت دئ په مـــــــابين د زوَر ؤ زېر وکۀ پام

لکه [په] شل ؤ شل ددې مثال مي هم کړ تمام
غوټه پـــــه شد تغيرپيداکي غوَټي بولي افغان
+++++++++++
پراته قسمه کلــــــمه ده اسم ،فعل ،حرفِ ندا
لفظ دتميز،پنځم ضمير،شپږم دئ عطف اغا

اووم دئ ربط اتم صفت تابه په يوه کـــرمه بيا
دهريوه به په خپل ځای کښې درته وکړم بيان
++++++++++++++++++
اسم اته قسمه لـري عام لکه سره زر، بازار
اسم خاص ښار لکه کابل، افغانستان، قندهار

اسم ذات ووينه په سترګـو تې قياس کړه چنار
اسم معنى لکه ژړا، خندا او نـــور په داشان
+++++++++++++++
اسم ظرف دئ لکه ښوونځی،لمونځی په يوه هرهلک
اسم تصغيردئ لکه جــــــــــوړچي له باباشي بابک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

اسم صوت دئ لکه شرپی، شرنگی چي وي پرسړک
اسم مجموع لکه رمه یاتــــــــــوريالي عسکريان
+++++++++++++
اقسام ځلـــــــوردمؤنث يوحقيقي بل لفظي
شپږ عــلامي چي مؤنث وي، نويوه به لري

لکه (بزه ؤ غوا) دو هـــــم غيرلفظي حقيقي
مثال دغيرلفظي دئ د(خور ؤ مور) په شان
++++++++++++++++++
دريـــــــــم مؤنث غيرذيروح لکه ( بدنی وصدری)
څلرم قسم ســـــــــــماعي که ئي په زړه کي لرئ

سماعي هم بي عــــــــــلامي، زي دربنيم په سِری
(لار ؤ مېچن ؤ مياشت ؤ ورځ) ده سماعي ئي عنوان
++++++++++++++++
اسم چي کاندي دلالت پــــــــــر نر هغه مذکر
لکه هلک، وښته، پسه، مونده،غـويی اوبل غر

مثال مي کئ درته معلوم چي ته په پوه شي بهتر
مقصدمي دادئ چي پښتوشي مقتدر، يـــو لسان
+++++++++++++
چي په اخيرکي ديواسم راسي دا علامات
نو هغه نوم به مذکر وي که کوی تحقيقات

ملينه (ی) ملفوظي (هـ) ته زده کۀ دانکات
که په رشتيا مزين غواړي د پښتو ګلستان
++++++++++++++
يای معروف نسبتي ده عــــــــــــــلامه دتذکير
اوبل يودئ حرف صحيح ادات ددغــــــه تدبير

واو معروف ئي دئ پنځم چي مي بيان کـئ اخير
دا پورتني تـــــــــوري دي واړه دنروالي نښان
++++++++++++++
اسم به وي يامذکـــــــــــــر يا مؤنث ځان که پو
دمؤنث شپږ عــــــــــلامي اوس بي بيان کم کاکو

اول (مجهول واو) لکه واو چي د(زانګو ؤ لامبو)
(معروفه ياء) لکه دوستي ودښمني پرجـــــــهان
+++++++++++++
(ثقيله ياء) لکه خـــــولی،(الف) رونا ؤ هوا
(مجهوله ياء) ده تږي وږی مسافر پرصحرا

حرف زايد چي مسافردئ سجع سمه کړه ما
(هـ) بزه، اسپه دغه ټول دمؤنث حـــــــــروفان
++++++++++++++
هراسم شپږحالات لـــري زړګيه ځان که خبر
يو(فاعلي) بل (مفعولي) په پوه دئ هردانشور

نــــــور(اضافي، ندا، جري، نسبي) وکۀ باور
ماپه ترتيب کـړله بيان چي شي په پوه طالبان
+++++++++++++


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

دپښتو ژبي هـــــــــم د نورو لسانونو په څېر
دي راوستلي نورلـــغات په تسلط خپل کي ډېر

لکه چي دئ (مفاهمه) لا (اول) تــوری د شمېر
کله وايه شي چي ملګري مودي ټول (صادقان)
+++++++++++++++
صفت پرشپږقِسمه، اول ئي ذاتي بل نسبتي
دريم صفتِ عددي دئ څلـــــــــرم مقداري

اشــــاروي پنځم صفت دئ شپږم استفهامي
صفت دبل اسم حـــــــــالت اوکيفيت کي بيان
+++++++++++++
اول فعلي صفات دوه قِســـــــمه هغه داسي بولي
نسبت دفعل چي وفاعـــــــــــل ته وي هغه فاعلي

او که يوفعل منسوب مفعول ته وي هغه مفعولي
(زيد وواهه سو) يا (زيد وواهه) دي دوه صفتان
+++++++++++++++++
ضميرپرځای داسم شپږقِسمه اول ئي شخصي
استفهامي ئي دئ دوهم، دريم ضميرموصولي

اشاروي دئ څلــــــــرم، پنځم ضمير ابهامي
شپږم ضميرمشترک ماکـــــــــــره وتاته عيان
+++++++++++++
مصدر دئ هغه کلمه چي پرکـــــــــــــولودکار
بي له تعلق دزمــــــــــــاني خپل دلالت کي اظهار

دئ پرشپږقِسمه چي هريوبه کړم بيان په خپل وار
کول، کېدل، خــوړل دي واړه په ترتيب مصدران
+++++++++++++
اول مصدر دئ (وضعي) لکه (وهل وُ ښکنځل )
يو کلـــــــــــمه اخير ئي لام لکه (چښل وُ شړل)

چي له دوو لفظوڅخه جوړشي دامصدرګوره تل
پخلاکېدل، پخلاکــــــــول دي ترکيبي مصدران
++++++++++++++
فعل دئ هغه کلمه چي پر کـــــــــــولود کار
په يو زمان دلالت وکي، جانه! شـــــه خبردار

زماني دری دي زه به هره زمــــانه کم تکرار
اوله (حال) يـعني دا اوس په پـوهوم شاګردان
+++++++++++
دوهم ماضي زمـــــــــــانه تېره پخوانی سرګذشت
اواستقبال چي آينده دئ څه به پيښ شي بل ګښت

نه مي په تېره نه په حـــال کي وکاره يوڅه کښت
دآينده دپاره يـــــــــــــمه په نن ورځ سرګردان
+++++++++++++++
فعلِ ماضي دئ پر نه قِسمه يومـــــــــــاضي مطلق
لکه چي (وامي وربډه) هغه ســـــــــــړی دئ محقق


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

استمراري (زه به مکتب ته تلم) وایـــه مي سبق
(که مي لیکلې وای) مــاضي شرطیه ده په داشان
+++++++++++++++
بله (ماضي امکاني) پخواتلای شـــوم پردې لار
ماضي بعیده (وو راغلی)، قریب (ومي کړ ښکار)

اووم مـــــــــاضي شکیه ( دی به لیږلی وي پلار)
اتـــــــــم ماضي تمنایي، نم توبیخي په دا شان
++++++++++++++
فعل لازمي، متعدي زه به کم دواړه اظـهار
متعدي لري فـــاعل ،مفعولي ته معلومدار

لازمي نه لري مفعول (ولاړبه شم زه کوم کار)
د فاعل کار وبـوله فعل چي نسې ته سرگردان
+++++++++++++
اسم تمیزدئ هغه لفظ چي ښیي شـــــان دصفت
لا دیو اسم یا کلام ښکاره کـــــــــوي کیفیت

لکه چي (دا هلک ورو ورو ځي) راښیي ئې حالت
کله بیاوایـــــــو چي دکښته دئ پټ تللی دهقان
+++++++++++++++
ځني الفاظ شته چي هغولـــره وایه شي اصوات
نداء، افسوس ؤ مصیبت اوڅلـــــرم تعجبات

دتمناالفاظ مدام څرگندوي خـــــــــواهشات
(وای، اوف ، ها، واخ) او دارنگه نور الفاظان
+++++++++++++++++
صرف مو تمام کړه اوس په نحوي سره پیل کوو
د نحویانو دقاعـــــــــدو تحسین ؤ سیل کوو

د مورنی ژبي و زدکړي لــــــــــره مَیل کوو
په دې امید چي هر پښتون سي د پښتوسخندان
+++++++++++++
نحویان بولي په لغت کي نحوه  لار او طرف
په اصطلاح کي دعــــــربو ئې همدغه هدف

چي دبنا او داعراب کیلي ایږدي ستاپرکف
دنحوي علم دئ دهـــري ژبي سر ؤ سامان
+++++++++++++++
په لــــــــــغوي معناکلام وایي خبرولره
دپښتنتو او لا دبل قـــــــــوم و (اترو) لره

جلبوي فکر یا ونثر،یاســـــــــــندرولره
دایو اواز دئ چي مقصد ورڅخه اخلي انسان
+++++++++++++++
کلام پر دوه قِسمه اول ئې دئ ناقص اوبل تام
ناقص هـــغه دئ چي وي پاته یوحصه دکلام

اوکه پوره کي تول مقصد هغه  کلام بولي تام
لکه چي ووایي پښتون ابـــادکئ افغانستان
+++++++++++++++


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ثلـــــوراجزاء دي دکلام اول ئې دئ بياني
استفهامي ئې دئ دوهم، دريم ئې دئ ندائي

څلرم قِسم درښيم چي هغه بــــــــولي امري
امیدلرم چي دا انشاء مي کي پِســـنده پوهان

++++++++++++++

استفهام وايي (چيرى ولاړې؟) او دا( څه کوې ته؟)
امـــــــــــــــــريه بيا وکهٔ ومانه اوس په مِهر کاته

ندائي، آه! څه ښـــــــه خوندکاندي سبايي لمرخاته
بيانيه، زه جوړوم په نـــــــــــــظم دغه داستان

++++++++++++++

پرڅلور قِسمه جملات دي د نحوي ساختُمان
يومرکبه، بل بسيطه په قاعـــــــــــده دلسان

بله مخلوطه بولي، ته په خبر کانده خپل ځان
بل مرکبه ؤ مخلوطه جــــــــمله بولي پوهان

++++++++++++++

جمله پر درو قِسموراتلاى شي دترتيب په اساس
يو مُطوَله جــــــــمله بوله بې له شک ؤ وسواس

بله محصوره جمله ده مــــــــاوليکل پر قرطاس
دريم جمله متوازنه چي ئې ســــــــم وي اوزان

++++++++++++++

په نظـــــــــــــم ونثرمي ددې فنه کتاب کئ تکميل
پر دې بياض مي کئ اسان دصرف و نحوي مشکل

په نظم ژر کښېني په ذهـــــــن کي تکرار کئ عامل
فضل محمد" وکيله" ډېر خلک بې شي ذوقمندان

++++++++++++++++++


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ